استاد ظریف امین یار ۲۰۱۷/۱۱/۳۰

# د ولسمشر غني چرگ یوه پښنه لري!

وایی د ملا نصر الدین ښار ته یو نوئ حاکم د مرکزي حکومت لخوا تعیین شوئ وو نو د رسم په مناطق ټولو منورو، روڼ اندو او مشهورو خلکو به ورته ډوډئ کوله. دوي به یا حاکم کورته میلمه کړ یا به یې هم ورته خواړه تیارول او د هغه کور ته به یې وړل. د ملانصرالدین دغه کار خوښ نه وو او وربانديې ډیر بد لګیده اما مجبوره وو ځکه هغه هم د ښار یو ډیر مشهور وګړي په توګه مطرح وو.

نو بالاخره یوه ورځ یې خپلې میرمني ته هدایت ورکړ چې د کور یو چرګ راونیسي او حاکم ته یې پوخ کړي ترڅو ورته ډالئ یې کړي. د ملانصرالدین میرمنه چې یوه ډیره پیاوړې آشپزه هم وه په خورا مهارت سره یې لذیذه خواړه تیار کړل. د ملانصرالدین میرمني پوخ شوئ چرګ یې نورو فرعي سبزیانو سره ترتیب او پرې سر پوښ کیښوده او ملانصرالدین ته ورغږ کړ چې د حاکم صاحب خورک د وړلو لپاره آماده ده. ملانصرالدین چې د خواړو خوند یې تر پوزه شو نو زړه کیې داسي وویل: «ای کاش چې هیڅ حاکم مو نه درلود نو اوس به مو دغه مزیداره خواړه خپلې میرمني سره یوځائ خپل په کور کې نوش جان کړي وای اما افسوس چې اوس به یې حاکم ته ډالئ کووم.

پدې سره ملانصرالدین د خواړو پطنوس لاس کې واخیست او د حاکم کور په لور روان شو. مګر په لارې کې به یې څو څو ځلې د خواړو سرپوښ خلاصولو او چرګ ته بې زیرې زیرې کتلې. ملانصرالدین چې وګئ هم وو نو کله به یې چې چرګ ته وکتل زړه ته به یې وسوله پیدا شوه او عجیبه فکرونه بې یې سرته راغلل. په همدغه کشمکش کې قرار درلوده چې بالاخره نفس پرې حاکم شو او نور یې ونشوه کولائ چې مخته قدم واخلي. چټک یې د خواړو سرپوښ خلاص کړ او د چرګ یو ورون یې نوش جان کړ. کله یې چه د چرګ ورون وخوړولو او خپله خوله یې پاکوله داسي یې وویل: دا څه کار وو چې ما وکړ؟ اوس که حاکم صاحب زما څخه تپوس وکړي چې د چرګ یو ورون چیره ده نو بیا به زه ورته څه ځواب ورکوم؟

زړه کې وویل چې ای کاش بیا کور ته لاړشم او سبا بل چرګ ورته پوخ کړم اما بالاخره داسي نتیجي ته ورسید چې چرګ باید هم نن هرمرو حاکم صاحب ته ډالئ کړي. هغه کله چې د حاکم کور ته ورسیدو نو نوي حاکم ته یې سلام او ښه راغلاست ویلو سره چرګ یې ورته ډالئ کړ. حاکم ډیر خوشحاله شو او د ملانصرالدین او د هغه میرمني خلوص او میني څخه مننه وکړه او د خواړو سرپوښ یې خلاص کړ. حاکم چې کافي پوه او زیرک انسان وو ژر پوه شو چې د چرګ یو ورون لادرکه ده. هغه ملا نصرالدین طرف ته خوا وکړه او په خندا یې وویل: «ملا صاحب لکه چې حتماً ستاسو میرمني د دې لپاره چې په بشپړ توګه داډه شي چې خوراک سم پوخ شوئ د چرګ یو ورون یې خوړلئ». ملانصرالدین چې کافی حیران وو او هیڅ ځواب یې نه درلود، سترګي یې د حاکم کرګئ خوا کیږي او ناګهان ګوري چې د حاکم مرغان په یوې پښې ولاړ دي نو ژر یې حاکم ته داسي ځواب ورکړ: «حاکم صاحب زما میرمنه ډیره ماهره آشپزه ده نو هیڅکله اړتیا نلري چې خوراک وڅکي». اصل کیسه داسي ده چې پدې ښار کې ټول چرګان همداسي یوه پښنه لرونکي دي. مهرباني وکړئ تاسو د کرګئ څخه خپل چرګانو ته وګورئ او لږ ځیر شئ.

کله چې حاکم کرګئ خوا وکتل په همدغه موقع کې چا چرګان وشړل او غوښتل یې چې چرګ خوني(مرغانچه) ته یې کړي او پدغه وضعیت کې چرګانو په دوه پښو منډې وکړي. حاکم ملانصرالدین ته مخاطب داسي وویل: « زما چرګان خو دوه پښې لري جناب ملا ؟» ملانصرالدین چې خورا حاضر ځوابه انسان وو حاکم ته یې داسي ځواب ورکړ: «حاکم صاحب قسم دئ که تاسو پسې هم همدغه سوټئ راوخلم نو یقین لرم چې دوه پښې به د خپلې کړې او دوه نورې به هم د خلکو څخه قرض کړي او پر څلورو پښو به منډې کړې». لیکن ما ستاسو لپاره کوم چرګ چې پوخ کړئ هغه مې هغه وخت راونیوه چې کاملاً استراحت حالت کې قرار درلود او ویده وه.

حاکم چې کافي هوښیار انسان وو پوه شو چې د ملانصرالدین نه په حاضر ځوابئ کې نشي ګټلئ نو خپل ملازم ته یې داسي وویل: « دغه چرګ دننه وویسي چې خپلې میرمن او څلورو زامنو سره یې نوش جان کړم». هغه د ملانصرالدین څخه یو ځل بیا مننه وکړه او ملا یې رخصت کړ.

د دغه ورځي نه وروسته هر څوک چې بې منطقه او بیهوده خبرې کوي او یا بې ځایه ضد کوي خلک ورته وایی چې « د ده سرې چرګ یوه پښنه لري»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

اوس به دیته راشم چې دا کیسه مې ولې تازه کړه. لکه څنګه چې تاسو قدرمن لوستونکي هم اطلاع لرئ، پرون بالاخره یو ځل بیا ډاکتر غنی زموږ ګران او مفکر ولسمشر نوې کاندید وزیران یې د پارلمان څخه د اعتماد رایي اخیستلو لپاره ولیګل. مګر پدغه وزیرانو کې د صلاح الدین رباني (د بهرنیو چارو سرپرست وزیر) پر ځای څوک معرفي شوي نه دي. دغه موضوع عامه ذهنیت ته ډیري پوښتني ایجاد کړي دي. خلکو داسې تبصرې وکړې چې ګویا ډاکتر صاحب غني قانون په ټولو باندې نشي پلي کولای نو ځکه زورواکۍ صلاح الدین رباني پرځای یې نوئ کس معرفي نشوا کړئ.
په همدغه باب وروسته بیا ښاغلي دواخان مینه پال( د ولسمشر د ویاند مرستیال) وویل چې د بهرنیو چارو وزارت په هکله در پارلمان پریکړه ناقانونه وه نوځکه نوموړئ به خپلې دندې ته د بهرنیو چارو د وزیر په توګه دوام ورکړي. دغه سلیقوي برخورد نه یواځې د عدالت او قانون څخه صریح سرغړونه ده بلکه یوه کاملاً تبعیضي پریکړه هم ده. ولسمشر چې وویل «هیڅ افغان د بل افغان څخه زیات او کم نه دئ» نن یې عملاً ثابته کړه چې هغه دغو شعارونو ته ژمن نه دئ. تاسو باور ولرئ چې دغه وضعیت د ډاکتر غنی او د ملي یووالي د حکومت نیمچه وقار او حیثیت به هم لاهو کړي. د بلې خوا دغسې سلیقوي چلند به یو ډیر ناوړي او غلط فرهنګ ته لا وده ورکړي. هغه فرهنګ چې پکې لنده غري او زورواکي د قدرت اخیستلو او حفاظت لپاره اساس ګنل کیږي. زما لپاره چې قانون د هرڅه څخه مهم دئ او واقعاً احترام ورته اړین ګنم، د ډاکتر غنی دغسې توپیري برخورد چې د قانون د عمومیت اصل سره واضح سرغړونه ده ، په کلکو ټکو یې غندم. دا د اولس لپاره د منلو وړ نه ده چې صلاح الدین رباني دي د قانون د تطبیق په جریان کې استثنا وګنل شي ځکه چې هغه زوواکئ دئ، د یو حزب رهبر دئ او د استاد رباني نوم ځان سره لري.
دا نو څه ډول همت او توره ده چې قانون دې پر عامو خلکو تطبیق شي اما بیا زورواکي او د جګړه مارانو زامن ترینه استثنا وګنل شي؟ آیا دا توپیري چلند نه دئ؟ آیا دا چلند د اساسي قانون او د هیواد د نورو قوانینو سره په ټکر که نه دئ؟ آیا دا انساني برخورد دئ؟ بیا صلاح الدین رباني خو هغه کس دئ چې عملاً د ملي یووالي حکومت خلاف اجندا لري او فعالیت کوي. دا هغه کس دئ چې د کابل پروسې کانفرانس کې د ګډون څخه ډډه وکړه او ملت باندې یې ملنډې ووهلې. نو بیا څنګه د ولسمشر ضمیر دا مني چې د هغه د وظیفې ناوړي دوام لپاره خپل ټول ارزښتونه لاهو وکړی.
موږ ولسمشر ډاکتر غنی ته کافی درناوئ لرو او دا موږ وو چې هغه مو د ولسمشرئ ماڼئ ته بریالئ کړ. هغه باید ملت ته ځواب وواي چې ولې همیشه باید د هغه تله یو طرف ته سقوط کوي او ولې همیشه قانون باید یواځې پر پښتنو پلي شی؟ کله چې ولسمشر غنی ولسمشر شو د منفکي آغاز یې د یو پښتون منفک کولو سره وکړ، کله چې د فاسدینو سره د مبارزې عملي ګام یې واخیست بیا یې هم یو پښتو راونیوه، همدغه راز کله چې د تعصب موضوع برسیره شوه یوځل بیایې یو پښتون باندې قانون پلي کړ اما هیڅکه یې هم نورو ملیتونو باندې قانون تطبیق نشوه کړئ. نو دا نسبي عدالت دې ولسمشر غنی ته مبارک وي موږ یې هیڅکه هم نه منو او نه هم د هیواد پر ګټه ده. موږ قانون ته ژمن یو او غواړو پر ټولو باندې قانون یوشان تطبیق شي. موږ د «قانون عمومیت اصل» تطبیق غواړو، نسبي عدالت او د قانون نسبي تطبیق دي ولسمشر او ملي یووالي حکومت ته مبارک وي.
لنډه دا چې ولسمشر باید د پارلمان او د ملت پریکړې ته درناوئ وکړي که نه نو داسې به په عامه ذهنیت کې منفور شي چې تاریخ به پرې وخاندي. زه پدې پوهیږم چې غالباً ولسمشر غنی صلاح الدین رباني سره د څوکۍ معامله کړې او ورته یې خامخا وویلي چې د نجات ایتلاف څخه لاس واخله نو زه به درته د وزارت دنده دوامداره کړم. اما باور وکړئ دا یوه نادرسته، فاسده او ناوړئ سیاسی تمرین ده. موږ سیاسي مصلحتونو باندې ښه پوهیږو اما دغه شرمناکه سیاسي معامل نشو تاییدولئ ځکه چې دا په اوږد مهال کې زموږ قانوني بنیادونه بې اعتباره کوي. موږ قانون د ټولو لپاره یوشان غواړو، توپیري او نسبی قانون پالنه نه غواړو او نه یې هم تاییدو. ولسمشر چې یو رون اندئ مفکر دئ زموږ ترینه دا تقاضا ده چې قانون باید پر ټولو باندې په عادله توګه تطبیق شي او نور نو باید دغه ناوړې حلقې ته «نه» ووایي که نه نو تاریخ هرڅه څاري ، هغه ملت چې ډاکتر غنی ولسمشرئ ته رسول شي هماغه یې بیا د ارګ څخه شړلئ هم شي. که څوک پر دغه خبره عقیده نلري تاریخ د ولوني ترڅو سر یې خلاص شي. پدغسې شرم نه ډک وضعیت کې دا وویل به درسته وي چې د ولسمشر غنی چرګه یواځې یوه پښه لري. ولسمشر یواځې پر پښتنو باندې د قانون تطبیق کولو لپاره چمتو دئ. نه پر دوستم، نه پر استاد عطا او نه هم پر پدرام، محقق او نورو مغرضو کړیو باندې یې زور رسیږي.

په درنښت
امین یار
کالیفورنیا، آمریکا
۲۵/۱۱/۲۰۱۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ